هاري

واشنگټن 19/07/2009

# ازاد او منصفانه انتخابات که ناکراري؟

د جمهوري ریاست په راتلونکو انتخاباتو کي د افغانانو د ګډون مسله ډېر اهمیت لري ځکه که چیري په انتخاباتو کي خلک پراخه برخه وا نه خلي، د حکومت مشروعیت به لا کمزوری سي، پر حکومت باندي به د عامه خلکو اعتماد لا کم سي، او طبعا د خلکو او حکومت تر مینځ به فاصله او لیري والی لا زیات سي. بلخوا، په انتخاباتوکي د عامه خلکو پوره ګډون ددې فرصت برابروي چي خلک د خپلو غوښتنو سره سم یو حکومت جوړکړي، متقابل اعتماد او ویسا زیاته سي، او د حکومت مشروعیت لا غښتلی سي.

که څه هم، د لبنان او ایران په انتخاباتو کي زیاتو کسانو برخه اخیستي وه، خو د افغانستان انتخاباتو په ارتباط غالب نظر دا دی چي اکثره خلک به په انتخاباتو کي برخه وا نه خلي. اساسي علت دا دی چي امنیت نسته او بل دا چي پدې تېرو کلونو کي د حامد کرزي حکومت دونه زیاتي خرابۍ کړي دي چي نور نو عادي افغانان له ډېرو دوراغجنو ژمنو څخه ستړي او بېزاره دي. مګرکه چیري افغانان غواړي چي په حکومت کي بدلون راولي او خپل په راتلونکي حکومت کي ونډه ولري، هغوی مجبوره دي چي د موجوده کاندیدانو له جملې څخه یو انتخابات کړي او رایه ورکړي.

انتخابات تحریمول ښایي په ځینو مواردو کي ښه او موجه پالیسي وي، خو نن سبا د ښاغلي اشرف غني په شتون کي افغانان کولای سي چي د یوه مرکز او مشر پر شاوخوا راغونډ سي او د کرزي حکومت پسي واخلي. ښاغلي اشرف غني واقعا یو پوه او مترقي الټرناتیف دی. د انتخاباتو لوی مشکل هله وي چي په کاندیدانو کي سړی نه وي او خلک حیران وي چي چا ته رایه ورکړي، مګر دمګړی د افغانستان په روانو انتخاباتو کي اشرف غني او حامد کرزي تر مینځ د داخلي پالیسیو څخه نیولې بیا تر خارجي پالیسیو پوري جدي او بنسټي اختلافات او توپیرونه سته. اشرف غني د بدلون، امنیت، سولي، سالم حکومت، پاکي اداري، او د اقتصادي انکشاف لپاره روښانه او عملي پروګرام لري، خو په مقابل کي حامد کرزی د اته کلني ناکامي دورې ژوندي تاریخ لري. د دغو دوو کاندیدانو تر مینځ انتخاب ډېر زیات سوچ او چورت ته اړتیا نلري، بلکي د دواړو تر مینځ ښکاره تفاوت سته. پدې اونۍ کي د ټولو رپوټونو اجمال لولئ.

مېرمن پاتریشا دیجینارو د جولاي پر ۱۷ مه د متحده ایالاتو په مشهور او وتلي سیاسي ویب سایټ هفینګټن پوسټ کي پخپله تحلیلي مقاله کي "افغانستان: دخروج واقعي سراتیژي- ازاد او منصفانه انتخابات" تر عنوان لاندي لیکي: په جنوبي افغانستان کي ۴۰۰۰ مرین عسکر په طالبانو پسې ګرځي. خو له بده مرغه، همداوس لا د تلفاتو شمېر زیات دی، او د تشدد او مرګ ژوبلي ګراف تر بل هر وخت جګ دی.

هیله دا ده چي افغانان د اګست پر ۲۰ یو نوي جمهورریس انتخاب کړي، ځکه اوسنی ولسمشر ګنګس او له حالاتو چور لټ بېخبره دی. حامد کرزي د جنګ مدیریت او زیاتره حکومتي چاري ګردسره بهرنیانو ته ورخوشي کړي دي، او خپله لګیا دی د جنګسالارانو او قاچاقبرانو سره رنګ په رنګ معاملې کوي او په حکومت کي د مقامونو وعدې ورسره کوي.

مېرمن پاتریشا لیکي ښایي دا ډول سیاست او سلوک پخوا مناسب وو مګر نن سبا غوره پالیسي ځکه نده چي حامد کرزی هره ورځ په زیاتېدونکې توګه د عامه خلکو ملاتړ له لاسه ور کوي.

حامد کرزي نهایت منفور دی. له هغه وخت راهیسي چي حامد کرزی مشر سوی دی، په عامه افغانانو کي د هغه محبوبیت ۶۰ فیصده را کښته سوی دی. افغانان له اداري فساد او لیډرشیپ له نشته والي څخه ستړي او اندېښمن دي. او پټه دي نوي چي زیاتره افغانان له جګړمارانو څخه کرکه لري کوم چي رشتیا هم باید په هاګ کي وای نه کابینه کي. د هغه یو مرستیال بد نام فهیم دی چي قاچاق، برمته کول، او په تور بازار کي د وسلو په خرڅلاوکي مهارت او اوږده سابقه لري. د هغه بل ملګري مشهور قاتل دوستم دی چي په ډلییزو وژنو کي پوره لاس لري. حامد کرزي هله خلک هک پک کړل چي پنځه مشهور قاچاقبران یې معاف او ازاد کړل. د پنځو واړو خپلوان د حامد کرزي په کمپین کي کار کوي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

حامد کرزی پدې انتخاباتو کې یو ځل بیا وښوده چې هغه د ځان د انتخابېدو لپاره د هر ډانګي او قاچاقبر سره معاملې ته حاضر دی. هغه د خلکو د ژوندانه او د اقتصاد د بیا راژوندي کېدو لپاره هيڅ پلان او فکر نلري.

پداسي حال کې چې غرب په بيلونهاوو ډالره په افغانستان کې لګوي، خو غرب نه غواړي چې دا ومني چې همدا نغدي مرستي او ډالر د يو څو وزيرانو، جنګسالارانو، او د مخدره موادو قاچاقبرانو جېبونو ته ځي. هغوی هم نغدي پيسي لري او هم يې ښې مځکي اخيستي دي. په افغانستان کې، يوازي همدغه خلک نغده پانګه لري. هغوی ځانونو لپاره غټې مانۍ، کوټې، او کورونه جوړ کړي دي. دا پداسي حال کې چې افغانستان د نړۍ تر ټولو غريب هېواد دی او زياتره خلک او ماشومان هره ورځ له قحطی سره مخامخ دي.

بلخوا، لدې ټولو کمزوريو او ناکاميو سره سره بيا هم ځيني خارجي مبصرين لا هم وايي چې حامد کرزی جدي سياسي رقيب نلري. خو حقيقت دا دی چې جدي سيالان سته. دا ځل افغانان خپله مجبوره دي چې په حکومت کې بدلون راولي. ځکه په افغانستان کې بدلون د ټولو په خير او ګټه دی، په تېره بيا د افغانانو خو سل په سل کې په ګټه دی.

د حامد کرزي لپاره څو الټرناتيفه سته، يو د بهرنيو چارو پخوانی وزير عبدالله دی او بل د ماليي پخوانی وزير اشرف غني دی.

عبدالله يو ډاکټر دی. هغه د احمدشاه مسعود نژدې ملګری وو. ښه ډيپلومات دی، او د اشغالګرو قواوو سره د معاملې کولو چل ښه ورځي.

بلخوا، اشرف غني څه وخت د کرزي مشاور وو. هغه مترقي نظريات لری او په تجربه يې ښودلي ده چې بدلون راوستلای سي. هغه په ټوله اسيا کې د ښه ماليي وزير لقب ګټلی دی، هغه وتوانېدی چې ګمرکات اصلاح کړي او ماليات راغونډ کړي او جنګسالاران او محلي واکمنان دېته مجبوره کړي چې مرکزي خزاني ته دولتي عايدات ور انتقال کړي. ډاکټر اشرف غني د خپل ژوند زياتره برخه د انکشاف او غربت او فقر د ورکولو لپاره کار او تحقيق کړی دی، او کېدای سي چې د افغانستان لپاره ډېر ګټور تمام سي.

حتمي خبره دا ده چې بايد راتلونکي انتخابات ازاد او منصفانه وي، د ګردو کانديدانو سره مساوي او برابر کومک وسي، او بالاخره بين المللي ټولنه بايد انتخابات وڅاري او نه بايد د يوه خاص کانديد په پلوي کمپين وکړي. که چيري رايه اچونکي د انتخاباتي پروسي پر مشروعيت باندي بې اعتباره سي، بين المللي ټولنه مجبوره ده چې همدااوس لا د ايران غوندي يو پاڅون او ناکراريو ته ځان چمتو کړي. که چيري دا کانه وسوه د ټولو لپاره به خطرناک عواقب ولري.

افغانان پدې ارزي چې خپل مشر خپله انتخاب کړي. دوی حق لري چې بدلون راولي. که چيري د افغانانو همدا حق يا د بين المللي ټولني دکمزوريو له امله او يا هم د حامد کرزي د ټګي برګي له کبله صدمه ووينې، د دې امکان سته چې په افغانستان کې يو ځل بيا کورنۍ جنګ شروع سي. افغانان سوله او ښه راتلونکي غواړي.

بلخوا، د واشنګټن پوسټ د جولاي پر ۱۸ مه ليکي امريکايي مرين عسکر د هلمند خانشين په ولسوالی کې طالبان سمدستي مات کړل، خو د هغوی همدې چټک بري د حاکميت او حکومت خلا را مينځته کړه. پدې سيمه کې، نه ولسوال، نه قاضي، نه پوليس او نه هم د حکومت نور موسسات سته.

خو د عراق درسونو مرين عسکرو ته دا ښودلي ده چې سياسي خلا بايد ژر ترژره ګډه سي. سمدستي څو تنه ملکي امريکايي ماهران او مشاوران خانشين ته ور غلل. فقط په څو ورځو کې يې ولسوال مقرره او د افغانستان بيرغ يې د بازار په مينځ کې پورته کړ. په هلمند کې، د مرين قومندان لاري نيکلسن وايي،"د دې جنګ فوکس بايد طالبان نوي بلکې فوکس بايدخلک وي. اصلي خبره دا ده چې څرنګه هغو کليو او ټولنو ته ژر تر ژره ځانونه ورسو چې تر اوسه پوري يې په ډار او ترور کې ژوندکاوه." د مسلکي او پوه مامورينو کمښت هر ځاي له ورايه ښکاري.

امريکا او ناټو غواړي چې د اګسټ د انتخاباتو لپاره څه امنيت برابر کړي. هغوی وايي د رايه ورکونکو تحريم به قومي انډول خراب کړي. که څه هم د نوم ليکني پروسه پخوا ختمه سوې وه، په هلمند کې راجسټريشن جاري دي. مامورين وايي ۵۰ او ٦٠ د رايه اچولو مرکزونه به پرانيزي،او ښايي د ۸۰ فيصده رايه ورکونکي و کولای سي چې رايه ورکړي.



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

امریکایي مامورین وایي د دایمي ثبات او سولي د ټینګېدو لپاره یو قوي او پاک افغاني حکومت ضروري دی. همدااوس، د افغان حکومت ددې قابلیت او استعداد نلري چي یو ځاي پخپله وساتي.

بل پلو، د نیویارک ټایمز اخبار د جولاي پر ۱٦ مه لیکي په افغانستان کي د امریکا لوی قوماندان جنرال مک کریسټل وایي په هلمند کي امریکایي عسکر د طالبانو له شدید مقاومت سره مخامخ سوي ندي، خو د ولایت په شمال کي برتانوي عسکر ځه مشکلات ویني. هغه دغه راز د هېواد په شمال او غرب کي د طالبانو نویو عملیاتو او فعالیتونو ته هم اشاره وکړه. هغه وویل، "طالبان ځه سره منظمېږي او دلته هلته برید او تېښته کوي. هغوی انتظار باسي چي ځه به پېښ سي. زه فکر کوم چي دا به یو ځو میاشتي وغواړي. مګر بالاخره جنګ د عامه خلکو د زړونو د ګټولو په خاطر دی. عامه خلک عموما د ښه او موثر حکومت سره مل او ملګري وي."

مک کریسټل وویل د عملیاتو بل پړاو د هلمند ښارګوټو ته غزېدل دي، هلته هم باید افراطیان سټ سي، او سیمه د افغان حکومت لپاره پاکه او امن سي. هغه وویل ددې جنګ د حل کلي دا ده چي کله به افغان حکومت ددې جوګه سي چي خپل امنیت پخپله وساتي.

نیویارک ټایمز وایي یو عالي رتبه امریکایي مامور وایي کندهار د طالبانو تر فشار لاندي دی. همدا مامور اضافه کوي په جنګ کي موږ یو لاسي او منظم نه یو. موږ په جلا جلا محلي جګړو لګیا یو.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de